مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملكزی

۲۰۲۲/۱۱/۱۸

# آیا صوفیان، د سلفیانو بدیل دی؟

آیا صوفیزم د بودیزم کاپي ده؟ آیا تصوف د رهبانیت تسلسل دی؟ آیا تصوف بدعت او په دین کې دین دی؟ آیا صوفیان د سیاسي اسلام د پلویانو رقیبان دي؟ آیا کیدای شي چې یو کس دې هم صوفي وي او هم د واک په ګدۍ ناست واکمن؟ آیا په رښتیا ټول توندلاري د سلفي عقیدې پلویان دي؟ آیا د نړۍ څواکمن هیوادونه، له همدې ډاره د سلفیانو په وړاندې د صوفیانو ملاتړ کوي؟ دا او دیته ورته ګڼ شمیر لا ځوابه پوښتنې شته چې د مذهبي ډلو د پیروانو په مباحثو او د دیني غورځنګونو د څیړونکو په لیکنو او مرکو کې وخت ناوخته مطرح کیږي. ما په دې لنډې څیړنې کې د احتیاط مضر تر سرحده هڅه کړې چې د بې طرفۍ لمن ټینګه ونیسم او د معتبرو سرچینو د روایت او درایت په سیوري کې د خپلې شړۍ څخه پښې د باندې نه کړم.

که څوک انګیري چې ګوندې صوفیزم، د بودیزم د ځان ځورونې او کړاو د فلسفې کاپي ده؛ نو ښایي چورلټه مبالغه او یو عیبجن تور واوسي. ځکه بودیزم په هیڅ رب، ماوراء الطبیعه، دوزخ او جنت باندې عقیده نه لري. مؤسس یې (ګوتاما بودا) د هندویزم یو اصلاح غوښتونکي نیپالي شهزاده وو چې د خپلې مفکورې لپاره یې څه اصول ټاکلي: (ژوند، مرګ، نهیلي، شتون او زیږیدنه ټول غم دی. د غوسې او قهر په خاطر باید څوک مجازات نه شي، غوسه پخپله سزا ده او د آخرت او جهنم په نوم څه نشته). بله دا چې په برما (میانمار) او سیریلانکا کې د کرکجنو بودایانو ناکردې لا د هرچا په ذهن کې تازه دي. ځینو یې مسلمانان په ژوندیني وسیځل او چا یې جسدونه په درمسالونو کې ایره ایره کړل. نو هر ایماندار پوهیږي چې په اسلام کې دا ډول مفکوره هیڅ ځای نه لري. په تصوف کې ګوښیتوب او انزوا شته، خو د عیسائیت روحاني تسلسل نه دی. د مسیحي رهبانیت کومه یادونه چې د المائدې په سورت کې شوې، هغه د کلیسا د راهبانو او مذهبي سټو هویت دی او تثلیث یا درې ګونې باور د هغوئ د عقیدې محور ګڼل کیږي. خو د صوفیانو په هکله دغه ډول ارزونه ناسمه ده؛ ځکه د توحید عقیده د تصوف د ټولو سرلارو د طریقت او خلوت بنسټ دی.

تصوف کوم ټاکلي تاریخ او بنسټګر نه لري. د ابو ریحان البیروني له نظره هغه د یوناني فلسفې د صوفیا (حکمت او ځیرکۍ) څخه راغلې کلمه ده چې د عباسي خلیفه، مأمون الرشید په مهال یې سر راپورته کړ او په مزه مزه یې د دغه خلافت پراخه ځنډې په خپل خم کې رنګ کړې. ولې تر ټولو زیاته وده یې په مرکزي آسیا، ترکیې او د افریقا په شمال کې وکړه. د الجزیرې د یو راپور له مخې، تصوف همدا نن یواځې په افریقا کې سل ملیونه پیروان لري. که د الْصُفَة څخه راغلې وي نو د اصحابو رضي الله عنهم د هغې بیوزلې ډلې پورې تړاو لري چې په نبوي جومات کې به اوسیدل او اَصحابُ الْصُفَة بلل کیدل؛ ابوهریرة یې تر ټولو مشهور صحابي دی. البته که د الصُوفْ څخه اخیستل شوې وي چې وړیو ته ویل کیږي، نو کلاسیکو صوفیانو به د زهد او ریاضت په خاطر په ګرم موسم کې هم وړین لباس اغوستلو، خو نن سبا چندان رواج نه لري.

نومیالۍ لیکواله، صفیه حلیم وایي: (تصوف ښایي یو غبرګون وي؛ د اسلام د خپرېدو په لومړي پړاو کې د اموي خلفاو د ژوند سټایل د نړۍ د نورو باچاهانو په شان وو. د دمشق او بیت المقدس په ماڼیو او دربارونو کې ژوند د اسلام د ساده ژوند او تعلیماتو برعکس او د هغه مهال د عالمانو لپاره د منلو وړ نه وو. نو صوفیانو د ښخړو په ځای، ځانونه له واکمنو او ښارونو ګوښه کړل؛ خو کله ناکله به د جذب او جلال په حالت کې شول) د بې شمیره بې پرې څیړنو پربنسټ، تصوف په دین کې یو ډول بدعت دی؛ خو د نوي دین ټاپه به ستره جفا او غټ ظلم وي. امام غزالي د تصوف په هکله وایي: (هر څوک چې د الله جل جلاله په اوآمرو او بندګۍ کې استقامت او د هغه له مخلوق سره نرمي او ښه سلوک وکړي، نو همدا تن رښتینې صوفي دی). سید علي هجویري (داتا ګنج بخش لاهوری) په کشف المحجوب کې لیکي: (صوفي هغه څوک دی چې په هغه کې د عبودیت معنا پخه شوې وي، د حق په مرسته له ناوړو اخلاقو ځان ژغوري او د حقیقت او شریعت د یو ځای کولو په هنر پوهیږي).

ځینې افراطي صوفیان دعوه لري چې ګویا اولنې صوفي، پخپله حضرت محمد (ص) دی چې د حِرَاءْ په سمڅې کې به یې زهد، خلوت او عبادت کولو. د دوئ له نظره، د فقهې او شریعت احکام د بدن د ظاهري اندامونو او مشاهدې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره تړلي دي؛ خو د تصوف کار له باطن او غيبي اسرارو سره دی چې پايله يې مکاشفه ده. دوئ فکر کوي چې غوث، ولي، قطب او ابدال په کائناتو کې د تصرف او بدلون واک لري؟ قطب، د شيعه مسلک د معصوم امام له مقام سره برابر دی او هيڅکله چيلنج کيدلای نه شي. نو ځکه له هغه څخه ويرېږي او د مراد ترلاسه کولو هيله ورڅخه لري. مگر د اهل سنت د اکثريت له نظره، مکاشفه، په غيب پوهيدل او له مړ انسان څخه د مرستي غوښتل، ناروا او خطرناکه عقيده ده. د هجرت په لومړنيو پيړيو کې يواځې د مؤمن او مسلم لفظونه استعماليدل؛ خو په دريمي پيړۍ کې د دغې ټرمنالوژۍ تر اړخه د زاهد او عابد کلمې هم ورزياتې شوې. عارفان عشق ته د الهي امانت په سترگه گوري او گمان کوي چې الله تعالی انسان له عشقه پيدا کړيدی. بايَزيد بُسْطَامِي د صوفي پرځای د عارف کلمه وکاروله؛ باور يې درلود چې په دين کې له ايمان او اسلام وروسته مرتبه د احسان ده چې د زړه پاکي، د نفس تزکيه او د ضمير تصفيه يې مهم ارکان دي.
اهل طريقت د فرضي عباداتو پسي نڅا، قوالي او د چوپي خولې ذکر کوي چې مراقبه يې بولي او د الله د کلمې په ځای، ياهو وايي. ځيني صوفيان عقيده لري چې د کائناتو په هرې ذرې کې د الله ذات شتون لري کوم ته چې وحدت الوجود ويل کيږي؛ يعني د انسان وجود هم د خالق د وجود يوه برخه ده؟ دوئ استدلال کوي چې حُبَاب يا بربوکی د سمندر برخه ده خو جلا وجود هم لري؛ نو کله چې پوکنی ماته شي سمندر شي. اوسمهال د اسلامي نړۍ په ۵۷ هيوادونو کې د تصوف ۸۰ طريقي مروجې دي چې ۲۶ فرقې يې پريمانه شهرت لري. د هند په لويې وچې او چم گاونډ کې بريلويان، قادريان، چشتيان، سهرورديان، نقشبنديان او په عربانو کې التجانية، الشاذلية، الرفاعية او السنوسية د مذهبي اغيز او سياسي وزن څخه برخمني دي. له بل پلوه، الإباضية، الخوارج، المعتزلة، القدرية، الجبرية، الرافضة نورې هغه ډلې دي چې زياتره يې دا مهال د تاريخ په تاخچو کې خوندي دي.
د مولانا رومي، خواجه انصاري، رحمان بابا او بايزيد روښان له صوفيانه نظرياتو، يوناني فلسفې، الماني نيچه او د امريکا د ويليم جيمز له څيرنو داسې ښکاري چې په عرفاني سلوک کې د تشدد لپاره ځای نشته او د جبر او اکراه په ځای، د زغم خبره ميره بريښي. دا هم تر يو بريده سمه ده چې د صوفيانو غوڅ اکثريت په وسله والي مبارزې تکيه نکوي او د سياسي اسلام سيالان هم نه دي. خو شواهد په گوته کوي چې د دوئ ډير مهم تاريخي شخصيت، منصور الحلاج په بغداد کې د عباسي خليفه له خوا د «انا الحق» د نارې په خاطر نه، بلکې د سياسي بغاوت او خليفه د فرمان څخه د سرغړونې په تور اعدام شويدی. سلطان صلاح الدين ايوبي او سلطان محمود غزنوي ستر صوفيان وو، خو د برچې په مټ سلطنت ته ورسيدل. همدارنگه طالبان د ديوبند او تصوف د مختلفو طريقو سالکين دي، مگر د وسله مبارزې له لارې يې واک ونيو او له نورو گوندونو سره د قدرت ويش ته چمتو نه ښکاري.
په تاريخي لحاظ، د سلف د کلمې لرغونتيا د تصوف له مسلک څخه ډيره پخوانۍ او ټول شموله ده. د فقهي د سترو مجتهدينو او د حديث له امامانو سره، د سلف صالح لفظ تړل شوی او د مقام شاخص يې گڼل کيږي. په عين حال کې، تصوف هم له دريمي هجري پيړۍ راهيسي د خلفاوو په دربارونو او د خانقاه په ډگر کې خپل ژور رول لوبولي او دمگړۍ ورته د نړۍ د ځواکمنو اړخونو پام ور اوښتي دی. په افغانستان باندې د شورويانو د وحشي يرغل او بيا د سپتمبر د تراژيدۍ راهيسي چې ويل کيږي عاملين يې د سلفي عقيدې پلويان وو، د اسلاموفوبيا او اسلامي ترهگرۍ نامرده اصطلاح د نړيوالو رسنيو د منځ ټکي او مهم بحث دی. د ځينو عربي هيوادونو ځواکمنو مشرانو، غالبا له همدې وجې له دوئ څخه واټن نيولې او د خپل واک او پاليسيو په وړاندې يې گواښ گڼي. په وروستيو لسيزو کې ليدل کيږي چې يو شمير عرب واکمنان خپل صوفي مشربي وطنوال د تعليم، قضاء، فتوی او رسنيو په مهمو څوکيو باندې گماري. همدا شان د نړۍ گڼ شمير قوي دولتونه د صوفيانو ملاتړ کوي او هغو ته د معتدل اسلام د يو بديل په سترگه گوري.
شک نه شته چې ترهگرۍ، اوريکو ډلو او افراطيانو تر هرچا زيات تاوان، خپل دين او خپلو ټولنو ته اړولی دی. د دې غوره امت ژور ټپونه هلته رغيدلای شي، کله چې د قلم، اعتدال او يو بل د منلو نسخه وازمايل شي. د تصوف مسلک د انساني سلوک د مهارولو او روحي ډاډ د ترلاسه کولو لپاره يو درمل دی. خو په دې شرط چې د الله دنده، پير او مرشد ته ونه سپارل شي او بنده د بنده گي په دائرې کې بند پاتې شي.

---

يادونه: په متني سره ما په دې ليکني کې د الجزيرې له چينل، کشف المحجوب، اليوم السابع جريدې، دائرة المعارف او گوگل څخه استفاده کړيده. همدارنگه، که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نورې ليکني او څيرني د هغه په فيسبوک، لنکد ان او د يوتيوب په چينل کې ولولي او وگوري؛ ادرس يې دا دی:

Wali Malakzay

د ليکوال: آرشيف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ